# نهم لېکچر کره کتنه {تنقید}

## پښتو ډيپارټمنټ

## يونيورسټي آف بلوچستان

# تنقيدي مکتبونه

تاثراتي تنقيد .تاثراتي تنقيد په اصل کښي د نفسياتي تنقيد

سره زياته اړيکه لري خو په خپلو کښي فرق هم په باريک

بيني سره پيدا کوي .

په تاثراتي تنقيد کښي د بوې فنپارې په حقله ناقد خپل داخلي

تاثر بيانوي نقاد هغه د تاثر په حقله خپل تاثر ښکاره کوي

يا دغه تاثر نقاد د بل تاثر سره پرتله کوي

کله چي يو قاري څه ولولي هغه که په هر صورت کي وي
مطلب که نثر وي که نظم وي د لوستلو بعد چي کوم تاثر
د قاري جوړيږي دغه تاثراتي تنقيد دی
په تاثراتي تنقيد کښي د فنپارې د ساخت يا د فن په حواله
خبره نه کيږي نه د فنپارې مرکزي خيال يا د خالق فکر
کتل کيږي بلکي يوازي او يوازي د ويونکي تاثرات کتل
کيږي چي د دې فنپارې د وئيلو مخکښي د نقاد څه تاثر

وو او د فنپارې د وئيلو بعد کښي يې څه تاثر دی دغه د تاثرات

د دغه فنپاري په حواله دی دغه د تاثراتي تنقيد دنده ده دغه تاثر

د نورو فنپارو د وئيلو سره هم پرتله کېدائ سي .

## تاريخي تنقيد

د تنقيد په ذريعه د تاريخ مطالعه د تاريخي تنقيد وظيفه ده د

تاريخي تنقيد اړيکه په فنپاره کښي د تاريخي تصوراتو سره

تړلې ده تاريخي نقاد په فنپاره کښي د تاريخ کړه وړه ګوری

تاریخي تنقید کوونکی په فنپاره کښي د لیکوال د عصر مطالعه هم کیږي .په دې تنقیدي مکتب کیښي د فنپارې جاج په دا ډول اخستل کیږي چي د هغه د فنپارې د دور ‘د هغه دور د ثقافتي او تهزیبي اقدارو او ماحول یو رنګه تصور او نقشه ښکاره کړي

په دې تنقیدي مکتب کښي نقاد د لیکوال ګېر چاپېره سیاسي او ټولېنیز حالات په نظر کښي لري

په دې رنګه تنقيد کښي نقاد په پوره ډول خپل ځان و هغې

عصرته بيائي په کومه زمانه کښي د فنپارې تخليق سوى وي

په عامه توګه مورږ وئيلاۍ سو چي په تاريخي تنقيد کښي نقاد

د ليکوال د عصر هر اړخيزه احاطه کوي په تاريخي تناظر

کښي د فنپارې څېړنه کوي

نقاد په دې تنقيد کښي د فن او فکر سره دومره اړيکه نه لري

د نقاد خاص نظر په فنپاره کښي پر تاريخي ارزښتونو باندي وي

# عمراني تنقید

عمراني تنقید چي د عمرانیاتو څخه ماخذ دی په لغاتو کښي
عمرانیات و ټولښنیز علم ته وئیل کیږي هغه علم چي د
ټولیني په حواله پوهه او شعور وړاندي کوي
دلته موږ خبره د کره کتني کوو ځکه په عمراني یا ټولښنیز
کره کتنه کښي د معاشرې په اړه تصورات کتل کیږي .
د یادولو وړدی چي په تاریخي کره کتنه کښي هم د لیکوال او
د فنپارې د هغه وخت ټولښنیز حالات کتل کیږي مګر په تاریخي
کره کتنه کښي د تخلیق د زمانې او نسلي خصوصیات هم کتل کیږي

مګر په عمراني تنقید کښي یوازي او یوازي  په فنپاره کښي

ټولېنیز اقدار او د هغو په اړه تصورات کتل کیږي

په مختصره توګه موږ وئیلاۍ سو چي په عمراني تنقید کښي

نقاد په فنپاره کښي د ټولني په اړه د لیکوال او د هغه د تخلیق

دوخت عمراني ستونځي او عمراني پرمختګ ګوري

عمراني نقاد په دې عقیده دی چي ادب دپاره د ټولني وي

او باید په ادب کښي د ټولني په اړه ګټور تصورات پېش کړل سي

لکه څنګه چي موږ وايو چي اديب د ټولني سترګور او بينا

نمائنده وي او د دغه ټولني سره تعلق لري ښکاره خبره ده

د ټولني ښه او بد اثرات به خامخا د دی په تخليقاتو راځي هر

تخليق هرومرو د ټولني سره بالواسطه يا بلاواسطه اړه لري

نو ځکه نقاد د فنپارې څخه ټولېنيز اړخونه رابرسېره کوي

عمراني کره کتنه د تاريخي کره کتني يو شاخ هم بللائ سو

په درناوي

# پاۍ